# جنت ستاسو څخه یو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډېر نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: "جنت ستاسو څخه یو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډېر نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی".
[صحيح] [بخارى روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې جنت او دوزخ انسان ته دومره نږدې دي لکه د پښې پر څټ د بوټانو تسمې چې نږدې دي، ځکه چې کله هغه داسې یو عمل وکړي چې الله جل جلاله پرې خوښيږي، نو له امله يې جنت ته ځي او یا ګناه وکړي چې له امله يې دوزخ ته ځي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3581

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee